| | |
|---|---|
| د پالیسي نوم: | د صورت حساب او وصولي پالیسي |
| د پالیسي لمبر: | 503 |
| څانګه: | مالي |
| د فعالیت ساحه: | مالي |
| تصویب کونکی: | د Bon Secours Mercy Health انکارپوریشن د ریيسانو هییت |
| د نفاذ نیټه: | 3/1/2025 |
| نسخه: | 6.0 |
| د پالیسي وضعیت: | تصویب شوې |

## I. *پالیسي (لوړ مفهوم)*

لکه څنګه چې د IRS کوډ برخه 501(r) له مخې جوت شوي، BSMH ژمن دی ناروغانو او تضمین کونکو ته د وړاندې شوي خدمتونو لپاره د تادیاتو د صورت حساب او وصولي په اړه پوهاوی ورکړي.BSMH به د پاملرني لپاره د تادیاتو ترلاسه کولو لپاره د کوم شخص پروړاندې په هیڅ ډول فوق العاده وصولي اقداماتو (لکه څنګه چې دلته تعریف شوي دي) لاس پورې نکړي مخکې لدې چې د دې تشخیص لپاره یې مناسب هڅې وکړي چې آیا نوموړی فرد د HFA پالیسي لاندې د پاملرني لپاره د مرستې مستحق دی که نه.

## II. *موخه (دری مهم پیغامونه)*

د خپلو ټولنو روغتیا ښه کولو لپاره د خپل ماموریت په رڼا کې، د بې وزلو او هغوی چې لږ خدمت ورته شوی باندې د ځانګړي تاکید سره، او د عیسی علیه سلام د شفا بخښني خدمت نه په الهام اخیستنې سره، Bon Secours Mercy Health ژمن دی د وړاندې کړي خدمتونو لپاره د بیل او د وصولي اړوند ناروغانو او تضمین کونکو ته معلومات او پوهه ورکړي. په حسابونو کې تادیه به په نامتناقص ډول د نژاد، عمر، جنډر، قومي شالید، ملي اصل، تابعیت، لومړی ژبې، مذهب، تعلیم، اړیکې، د بیمې پوښښ، ټولنه کې موقف، یا کوم بل تبعیضي او توپیري فاکتور په پام کې نیولو پرته تعقیب کېږي. د دې لپاره، BSMH به د پاملرني لپاره د تادیاتو ترلاسه کولو لپاره د کوم شخص پروړاندې په هیڅ ډول فوق العاده وصولي اقداماتو (لکه څنګه چې دلته تعریف شوي دي) لاس پورې نکړي مخکې لدې چې د دې تشخیص لپاره یې مناسب هڅې وکړي چې آیا نوموړی فرد د HFA پالیسي لاندې د پاملرني لپاره د مرستې مستحق دی که نه.

هر تضمین کونکي ته به مناسب وخت او ارتباط ورکول کیږي چې د خپل مالي مسؤلیت نه خبر اوسي او وې پیژني. تضمین کونکی به د هغه خدمتونو لپاره له مالي پلوه مسؤل وي کوم چې په واقعیت کې وړاندې شوي وي او په کافي توګه مستند شوي وي. د BSMH استازي او/یا د دې منصوب به په پراخه کچه د نورو شیانو ترڅنګ د ناروغ د ترخیص کیدو نه مخکې هغوی ته په ساده ژبه د پالیسي د کاپي ورکولو په واسطه د HFA پالیسي تبلیغ کوي. د هر تضمین کوونکي بیمې پوښښ باندې پوهیدل د تضمین کونکي مسؤلیت دی. د بیمې پوښښ پسې پخپله د تادیه کولو هرډول دوهم مکلفیت د تضمین کونکي د بیمې پوښښ او د مرستو د طرحې له مخې ټاکل کیږي.BSMH د په شرایطو برابری، د ادعا قضاوت کولو او د ناروغ د مسؤلیت مشخص کولو لپاره د مرستو توضیحاتو او د تضمین کونکي او د بیمې وړاندې کوونکي لخوا نورو معلوماتو باندې تکیه کوي.

## III. *سکوپ (هغه خلک په چا چې دا پالیسي پلې کیږي)*

د صورت حساب او وصولي دا پالیسي د BSMH روغتیا پاملرني لاندې تاسیساتو باندې پلې کیږي. د بیل ورکولو او را ټولولو یا صورت حساب پالیسي د امریکا متحده آیالاتو ("USA") کې د BSMH روغتیایي پاملرني تاسیساتو باندې پلې کیږي او د امریکا متحده آیالاتو نه بهر روغتونونه پکې شامل ندي:

Cincinnati

- Mercy Health - انډرسن روغتون
- Mercy Health - کلیرمانټ روغتون
- Mercy Health - فیرفیلډ روغتون
- Mercy Health - یهودي روغتون
- Mercy Health - د لویډیز روغتون

- Mercy Health – کینګز میلز روغتون

کینټوکي

- Mercy Health - لورډز روغتون
- Mercy Health - مارکیوم او ولاس روغتون

لیما

- Mercy Health - د سانټ ریټا طبي مرکز

Lorain

- Mercy Health - لورین روغتون
- Mercy Health - آلن روغتون

سپرینګفیلډ

- Mercy Health - د سپرینګ فیلډ سیمه ییز طبي مرکز
- Mercy Health - اوربانا روغتون

ټولیډو

- Mercy Health - سانټ وینسټ طبي مرکز
- Mercy Health - پیریسبرګ روغتون
- Mercy Health - سانټ چارلس روغتون
- Mercy Health - سانټ ان روغتون
- Mercy Health - ډیفیانس روغتون
- Mercy Health - ټیفین روغتون
- Mercy Health - ویلارډ روغتون

یانګزټاون

- Mercy Health - د سانټ ایلیزابت یانګزټاون روغتون
- Mercy Health - د سانټ ایلیزابت بورډمن روغتون
- Mercy Health - د سانټ جوزف وارین روغتون

ریچمانډ

- Bon Secours - د سانټ فرانسیس طبي مرکز
- Bon Secours - د ریچمانډ ټولني روغتون
- Bon Secours - میموریل سیمه ییز طبي مرکز
- Bon Secours - د سانټ میري روغتون

راپاهانوک

- د راپاهانوک عمومي روغتون

همپټن روډ

- د Bon Secours میري ایماکیولیټ روغتون
- د Bon Secours میري ویو طبي مرکز
- په هاربر ویو* کې د Bon Secours روغتیایي مرکز
- د Bon Secours هاربر ویو طبي مرکز*

تمه کیږي چې د *Bon Secours هاربر ویو طبي مرکز د 2025 په جریان کې پرانستل شي. په هاربر ویو کې د Bon Secours روغتیایی مرکز به په هغه وخت کې د نوي Bon Secours هاربر ویو طبي مرکز برخه جوړه شي.

سهیلي کارولینا

- د سانټ فرانسیس مرکزي ښار
- د سانټ فرانسیس ختیځ اړه
- د سانټ فرانسیس میلینیم

سهیلي ویرجینیا

- Bon Secours - د جنوبي ویرجینیا طبي مرکز
- Bon Secours - د جنوبي غاړې طبي مرکز
- Bon Secours - د ساوتمپټن طبي مرکز

## IV. *د پالیسي تفصیلات (ملاتړي ټکي)*

پالیسي:

د روغتون د خدمتونو یو اظهارلیک د صورت حساب ډیریدونکي دورو کې ناروغ/تضمین کونکي ته لیږل کیږي. په هغه صورت کې چې ناروغ د بیمې هیڅ پوښښ ونلري، پخپله تادیه کونکی ناروغ وي، نو اظهارلیک د خدمتونو عرضه کیدو نه وروسته لیږل کیږي. په ډیری مواردو کې کله چې ناروغان د بیمې پوښښ ولري، اظهار لیکونه وروسته له هغې لیږل کیږي چې خدمتونه عرضه شي، غوښتنه وسپارل شي، او غوښتنې ته د بیمې شرکت لخوا رسیدنه وشي. ځینې داسې موارد هم شته د مثال په توګه چې د ناروغ د اضافي معلوماتو وړاندې کولو اړتیا له امله غوښتنې ته رسیدنه یا پریکړه کول درول شوي وي، چې پدې صورت کې د غوښتنې پروسس کیدو نه مخکې ناروغ او/یا تضمین کونکي ته اظهار لیک لیږل کیږي.

د BSMH استازي او/یا د هغوی ځای ناستي د وصولیو تعقیب کولو موخې لپاره د اظهارلیک صورت حساب دورې پرمهال ناروغ/تضمین کونکي سره د اړیکه نیولو (د تلیفون، پوسټ یا بریښنالیک له لارې) هڅه کوي. د وصولیو هڅې د ناروغ حساب کې مستند کیږي.

د اظهار لیک دوره:

د اظهار لیک دوره ناروغ ته د لومړي لیږل شوي اظهار لیک څخه سنجول کیږي (د لیږلو نیټه) او لاندې موارد پکې شامل وي:

- د اظهار لیک پروسه کې د ډیروالي 30 ورځو کې ناروغ/تضمین کوونکي ته تعقیبي اظهار لیکونه لیږل کیږي:
  - لومړی – د لومړي صورت حساب نیټه
  - 2ام – 30 ورځې وروسته
  - 3ام – 60 ورځې وروسته
  - 4ام – 90 ورځې وروسته او د وصلي اداري ته د سپارلو خبرتیا که چیرې ناتادیه شوی مقدار پاتې وي یا د HFA غوښتنلیک ترلاسه نشي
  - 5ام – 120 ورځې وروسته – د وصولي اداري ته سپارل (د وصولیو اداري لخوا مکتوب لیږل کیږي)، د دې پالیسي د مقرراتو او شرایطو سره مخ کیدل.
  - د وصولي دوهمه یا دریمه اداره ممکن وکارول شي، د دې پالیسي د مقرراتو او شرایطو له مخې.

د وصولیو فوق العاده اقدامات (ECAs):

- لکه څنګه چې د دې سند د تعریف په برخه کې واضح شوي دي، په ECAs کې قانوني یا قضایي کړنې شاملې دي، چې په دې کې دغه موارد هم دي خو یوازې تر پورې محدود نه دي، لکه پر یو فرد باندې د جعل له امله جریمه ، د یو فرد حقیقي ملکیت جریمه کول، د یو فرد د بانکي حسابونو یا شخصي ملکیت ضمیمه یا ضبط کول، د یو فرد پر وړاندې مدني اقدام، د نیول کیدو یا د جلب لیک، او د یو فرد معاش یا نور عاید بندول.
- BSMH به د دې قانوني کړنو څخه هیڅ یو ترسره نکړي یا به د BSMH په استازیتوب د کوم مراجعه کونکي لخوا قانوني کړنو کارول تصویب نه کړي.BSMH به په ځینو شرایطو کې په دوره یې توګه د دفتر اعتباري یا کریډیټ راپورونه ترسره کړي.
- دا د BSMH پالیسي ده چې د کوم فرد پروړاندې ECAs کې ښکیل نشي ترڅو مخکې لدې چې د دې تشخیص لپاره مناسب هڅې وشي چې آیا فرد د HFA پالیسي لاندې د مرستې لپاره په شرایطو برابر دی که نه.
- BSMH به د HFA پالیسي لاندې پوښل شوي مخکې وړاندې کړې پاملرنې لپاره د یو یا ډیرو صورت حسابونو د کوم فرد لخوا نه تادیه کولو له امله د طبي لازمي پاملرنې وړاندې کولو سره مخالفت یا مخنیوی ونکړي یا د وړاندې کولو نه مخکې یې تادیه ونه غواړي.

د HFA په شرایطو برابری مشخص کولو لپاره هڅې:

- BSMH به ناروغانو ته اجازه ورکړي چې د HFA ډک کړي غوښتنلیکونه د غوښتنلیک 240 ورځو موده کې وسپاري (لکه څنګه چې دلته مشخص شوي دي).
- BSMH به د ناروغ یا تضمین کوونکي پروړاندې د HFA پالیسي لاندې د ناروغ د په شرایطو برابری مشخص کولو لپاره د مناسب هڅو کولو پرته ECAs ونه کاروي. په ځانګړي توګه:
    - BSMH به افراد د HFA پالیسي په اړه خبر کړي لکه څنګه چې دلته شرح شوي دي مخکې لدې چې د پاملرنې لپاره د تادیه ترلاسه کولو په موخه ECAs په کار واچوي او د پاملرنې لپاره د ترخیص نه وروسته د وصولي لومړي اظهار لیک څخه لږترلږه 120 ورځو لپاره د دا ډول ECAs په کار اچولونه ډډه کوي.
    - که چیرې BSMH د ECAs په کار اچولو اراده ولري، نو د یو یا ډیرو ECAs لومړی پیل کولو نه لږترلږه 30 ورځې مخکې به لاندې موارد پیښیږي:
        - BSMH به ناروغ ته تحریري توګه خبروي چې د په شرایطو برابر افرادو لپاره مالي مرسته شتون لري، ECAs په ګوته کوي چې تاسیسات (یا بله مجاز ډله) یې غواړي د پاملرنې لپاره د تادیه ترلاسه کولو لپاره یې پیل کړي، او ټاکلې نیټه په ګوته کوي چې له هغې وروسته به دغه ECAs پیل کړی شي چې دا باید د هغه نیټې وروسته څخه 30 ورځې مخکې موده کې نه وي په کومې کې چې لیکلي خبرتیا ورکړل شوې وي؛
        - په پورتنی خبرتیا کې به په ساده ژبه د HFA پالیسي لنډیز هم شامل وي؛
        - BSMH به مناسب هڅه وکړي چې ناروغ د HFA پالیسي په اړه په شفاهي ډول خبر کړي او دا چې فرد څنګه کولی شي د غوښتنلیک پروسې اړوند مرسته ترلاسه کړي.
    - که چیرې BSMH د پاملرنې څو قسطونو لپاره د یوه فرد پاتې یا ناتادیه شوی صورت حساب متراکم کړي د دغه صورت حسابونو لپاره د تادیه ترلاسه کولو لپاره د یو یا ډیرو ECAs د پیل کولو نه مخکې، نو دا به په مجموعه یا تراکم کې شامل د پاملرنې ترټولو وروستي قسط لپاره د ترخیص نه وروسته د لومړي صورت حساب اظهار لیک ورکولو نه وروسته تر 120 ورځو پورې د ECAs پیل کولو څخه ډډه وکړي.

د HFA غوښتنلیکونو پروسس کول:

- که چیرې کوم شخص د غوښتنلیک دورې په جریان کې د HFA نامکمل غوښتنلیک وسپاري، BSMH به:
    - د پاملرنې لپاره د تادیه ترلاسه کولو هرډول ECAs تعلیق کړي؛ او
    - فرد ته به لیکلي خبرتیا ورکړي چې په هغې کې د HFA پالیسي یا د HFA غوښتنلیک فورمې لاندې د اضافي معلوماتو او/یا اړین اسنادو یادونه شوې وي چې باید د غوښتنلیک بشپړولو لپاره وسپارل شي او پدې کې به د BSMH د اړیکي معلومات شامل وي چې د دې پالیسي په پای کې دلته ورکړل شوي دي.
- که چیرې کوم فرد د غوښتنلیک دورې په جریان کې د HFA مکمل غوښتنلیک وسپاري، BSMH به:
    - د پاملرنې لپاره د تادیه ترلاسه کولو هرډول ECAs تعلیق کړي؛
    - د په شرایطو برابري به تشخیص کړي چې آیا فرد د پاملرنې لپاره د HFA په شرایطو برابر دی او فرد د په شرایطو برابری تشخیص (که اړوند وي، پشمول د هغه مرستې د کومې لپاره چې فرد په شرایطو برابر وي) او د دې تشخیص لپاره اساساتو په تړاو په لیکلي توګه خبروي.

- o که چیرې فرد د پاملرنې لپاره د HFA په شرایطو برابر وپیژندل شي، BSMH به:
  - ▪ که چیرې فرد د وړیا پاملرنې پرته مرستې لپاره په شرایطو برابر پیژندل شوی وي، فرد ته لاندې موارد وړاندې کوي:
    - د صورت حساب اظهار لیک چې پدې کې د HFA په شرایطو برابر فرد په حیث د پاملرنې لپاره په فرد پاتې مقدار ښودل شوی وي
    - دغه مقدار څنګه مشخص شوی دی او
    - د دې ویل یا شرح کول چې فرد څنګه کولی شي د پاملرنې لپاره د AGB په تړاو معلومات لاسته راوړي؛ یا
    - د دې ویل یا شرح کول چې فرد څنګه کولی شي د HFA لاندې د لاډیرې سخاوتمندې مرستې لپاره غوښتنه وکړي.
  - ▪ فرد ته هغه مقدار پیسې بیرته ورکوي چې هغه یا هغې د پاملرنې لپاره تادیه کړې وي (هغه که BSMH ته تادیه شوې وي یا کومې بلې ډلې ته چا ته چې BSMH د پاملرنې لپاره د فرد د پور ترلاسه کیدو رجعت کړی وي) کومې چې د هغه مقدار څخه ډیرې وي چې هغه یې شخصاً د HFA په شرایطو برابر فرد په حیث د تادیه کولو لپاره مسؤل پیژندل شوی وي، غیرلدې که دغه اضافي مقدار د 5$ ډالرو څخه کم وي (یا د داخلي عاید بولیټن کې خپور شوی دا ډول بل مقدار).
  - ▪ د پاملرنې لپاره د تادیه ترلاسه کولو په موخه د فرد پروړاندې ترسره کړې هرډول ECA (د پور د پلورلو په استثنا سره) د بیرته ستنولو لپاره موجود ټول مناسب اقدامات کوي.
- کله چې د HFA هیڅ غوښتنلیک نه وي سپارل شوی، غیرلدې او ترهغه پورې چې BSMH د غوښتنلیک موده کې د HFA غوښتنلیک ترلاسه کړي، لکه څنګه چې اړوند وي، BSMH، کولی شي د پاملرنې لپاره د تادیه ترلاسه کولو په موخه ECAs پیل کړي کله چې د HFA په اړه یې فرد خبر کړی اوسي لکه څنګه چې دلته شرح شوي دي.

<u>متفرقه مقررات:</u>

- **د ناوړه چلند ضد مقررات –** BSMH به د خپل تشخیص اساس دا نه ګرځوي چې فرد د دې معلوماتو له مخې د HFA په شرایطو برابر ندی چې BSMH د دې باور لپاره دلیل لري چې معتبر ندي یا غلط دي یا هغه معلومات چې د فرد څخه په زور یا د فشار په کارولو سره ترلاسه شوي وي.

- **د میډیکیډ په شرایطو برابرۍ تشخیص –** BSMH به پدې تړاو مناسب هڅې کوي چې مشخص کړي آیا فرد د پاملرنې لپاره د HFA په شرایطو برابر دی کله چې د فرد لخوا د HFA مکمل غوښتنلیک ترلاسه کړي چې BSMH فکر کوي هغه د میډیکیډ لپاره ممکن په شرایطو برابر اوسي، BSMH تشخیص کول وځنډوي چې آیا فرد د پاملرنې لپاره د HFA په شرایطو برابر دی تر هغه وخت پورې چې د فرد میډیکیډ غوښتنلیک مکمل شي او وسپارل شي او د فرد د میډیکیډ په شرایطو برابرۍ تشخیص وشي.

- **د HFA غوښتنلیک نه لغو کول –** د فرد لخوا د لاسلیک کړي لغو ترلاسه کول، لکه د یوه لاسلیک کړي اظهارلیک ترلاسه کول چې فرد نه غواړي د HFA پالیسي لاندې د مرستې لپاره غوښتنه وکړي یا دلته شرح شوي خبرتیاوې ترلاسه کړي، دا د دې لامل کیږي نه چې پریکړه وشي چې نوموړی فرد د HFA په شرایطو برابر ندی.

- **د HFA په شرایطو برابرۍ تشخیص لپاره نهایی واک –** د دې تشخص لپاره نهایی واک چې BSMH مناسب هڅې کړې ترڅو مشخص کړي آیا فرد د HFA په شرایطو برابر دی او د همدې لپاره د فرد پروړاندې د ECAs کارول پیل کړي د BSMH د ناروغانو مالي خدمتونو څانګې سره دی.

- **د نورو ډلو سره تړونونه –** که چیرې BSMH د پاملرنې اړوند کوم فرد پور پلورې یا بلې ډلې ته یې راجع کوي، BSMH د قانوني مکلفیت لرونکی لیکلی تړون د نوموړې ډلې سره کوي چې په مناسب ډول د دې ډاډ ترلاسه کولو لپاره طرحه شوی اوسي چې تر هغه وخت پورې به د پاملرنې لپاره د تادیه ترلاسه کولو په موخه هیڅ د ECAs اقدام نه کیږي چې د دې تشخیص لپاره مناسب هڅې شوي اوسي چې آیا فرد د پاملرنې لپاره د HFA په شرایطو برابر دی که نه.

- **په بریښنایی ډول د اسنادو ورکول –** BSMH کولی شي لیکلي خبرتیاوې یا پدې پالیسي کې شرح شوي ارتباطات هغه افرادو ته په بریښنایی ډول (د مثال په توګه د بریښنالیک له لارې) ورکړي څوک چېووایی چې هغه د لیکلي خبرتیا یا ارتباط په بریښنایی ډول ترلاسه کولو ته ترجیح ورکوي.

## V. *تعریفونه*

- **AGB –** هغه مقدار چې عموماً د بیمې پوښښ لرونکي افرادو ته د بیړنۍ یا نورې لازمي طبي پاملرنې لپاره یې بیل ورکول کیږي.

- **د غوښتنلیک موده –** هغه موده چې پدې کې BSMH باید د HFA لاندې سپارل شوي د مالي مرستې لپاره غوښتنلیک قبول او پروسس کړي ترڅو د دې تشخیص لپاره یې مناسب هڅې کړې اوسي چې آیا فرد د دې پالیسي لاندې د مالي مرستې لپاره په شرایطو برابر دی که نه. د غوښتنلیک موده په هغه نیټه پیلیږي په کومه چې پاملرنه عرضه شوې وي او د 240مې ورځې په اخر کې پای ته رسیږي د هغه نیټې نه وروسته چې د پاملرنې لپاره د ترخیص نه وروسته د صورت حساب لومړی اظهار لیک پکې ورکړل شوی وي یا لږترلږه 30 ورځې له هغه ځه وروسته چې BSMH فرد ته لیکلې خبرتیا ورکړې چې پدغه خبرتیا کې هغه نهایي نیټه مشخص شوې وي د کومې نه وروسته چې ECAs پیل کیږي.

- **BSMH –** Bon Secours Mercy Health

- **BSMH روغتیایی اسانتیاوې –** Bon Secours Mercy Health روغتونونه

- **ECAs –**ECAs هغه اقدامات دي چې د روغتون لخوا د یو فرد پر وړاندې ترسره کیږي چې د روغتون د مالي مرستې پالیسی له مخې د پوښل شوي پاملرنې لپاره د بل په تادیه کولو پورې تړاو لري چې په اړه یې د منفي معلوماتو راپور ورکول د یو فرد د مصرف کونکي کریډیټ راپور ورکولو ادارو یا کریډیټ دفترونو ته راپور ورکول، د طبي لازمي پاملرنې چمتو کولو دمخه تادیې ته اړتیا لري یا د نه تادیې له امله د پاملرنې انکار کول، یا هغه عملونه پکې شامل دي چې قانوني یا قضایي پروسې ته اړتیا لري.په قانوني یا قضایي فعالیتونو کې دغه موارد شامل دي، مګر یوازې تر دې پورې محدود نه دي، پر یو فرد باندې د درواغ لګولو تور، د یو فرد حقیقي ملکیت جریمه کول، د یو فرد د بانکي حسابونو یا شخصي ملکیتونو اخیستل یا ضبطول، د یو فرد پر وړاندې په مدني دعوا کې ښکیلتیا، د نیول کیدو لامل کیږي یا په فزیکي توګه د هغه د نیولو احضار لیک، او د یو فرد معاش یا نور عاید بندول.

- **HFA-**د روغتیا پاملرنې مالي مرسته

- **د HFA پالیسي –** د BSMH د روغتیا پاملرنې د مالي مرستې پالیسي.

- **د HFA په شرایطو برابر فرد –** د HFA پالیسي لاندې د مالي مرستې لپاره په شرایطو برابر فرد (د دې په پام کې نیولو پرته چې آیا فرد د HFA پالیسي لاندې د مرستې لپاره غوښتنه کړې).

## VI. *ضمیمې*

ضمیمه 1 – د BSMH د اړیکې معلوماتو برخه

## VII. *اړوند پالیسی*

BSMH د بیمه نلرونکي یا کمه بیمه لرونکي ناروغانو لپاره نور انتخابونه وړاندې کوي څوک چې د HFA پالیسي لاندې د مالي مرستې لپاره په شرایطو برابر نه وي. د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د BSMH لاندې پالیسی وګورئ:

- د BSMH د روغتیا پاملرنې مالي مرستې پالیسي
- د BSMH د بیمه نلرونکي/پخپله تادیه تخفیف پالیسي

BSMH د BSMH طبي ګروپ د فعالیتي ادارو او د بیرني پاملرني تاسیساتو لپاره جلا روغتیایی مالي مرستي او د بیلانو د تادیه کولو او راټولولو پالیسی ساتي. د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ لاندې پالیسی وګورئ:

- د BSMH د طبي ګروپ د روغتیا پاملرني د مالي مرستي پالیسي
- د BSMH د طبي ګروپ د بیلونو د تادیي او راټولولو پالیسي
- د BSMH د بېرنۍ روغتیایي پاملرني اړوند د مالي مرستي پالیسي
- د BSMH د بېرنۍ پاملرني د بیلونو د تادیي او راټولولو پالیسي

### *VIII. د نسخې کنټرول*

| چمتو کوونکی | شرح | نیټه | نسخه |
|---|---|---|---|
| مالي/تراویس کروم | د صورت حساب او وصولي پالیسي | 11/25/2019 | 1.0 |
| مالي/تراویس کروم | د صورت حساب او وصولي پالیسي | 2/18/2021 | 2.0 |
| مالي/تراویس کروم | د صورت حساب او وصولي پالیسي | 2/17/2022 | 3.0 |
| مالي/تراویس کروم | د صورت حساب او وصولي پالیسي | 1/24/2023 | 4.0 |
| مالي/تراویس کروم | د صورت حساب او وصولي پالیسي | 1/22/2024 | 5.0 |
| مالي/تراویس کروم | د صورت حساب او وصولي پالیسي | 1/24/2025 | 6.0 |

**ضمیمه 1**

**د اړیکي معلومات:**
د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د **Mercy Health روغتونونو** لپاره د BSMH سره په لاندې ډول اړیکه ونیسئ:

| | | |
|---|---|---|
| *ویب سایټ* | www.bsmhealth.org/financial-assistance<br>www.mercy.com/financial-assistance | |
| *تلیفون* | 1-855-732-0138 | |
| *د پوست له لارې* | Mercy د عامه روغتیایي امتیازاتو څانګه<br>پوستې بکس شمېره 631774<br>Cincinnati, OH 45263-1774 | |
| *حضوري* | **Mercy Health – د سانټ آن روغتون**<br>3404 W. Sylvania Avenue<br>Toledo, OH 43623<br>څانګه: مالي مشوره<br>**Mercy Health – د ډیفیانس روغتون**<br>1404 E. Second Street<br>Defiance, OH 43512<br>څانګه: مالي مشوره<br>**Mercy Health – د ټیفین روغتون**<br>45 St. Lawrence Drive<br>Tiffin, OH 44883<br>څانګه: مالي مشوره<br>**Mercy Health – د ویلارډ روغتون**<br>1100 Neal Zick Rd.<br>Willard, OH 44890<br>څانګه: مالي مشوره<br>**Mercy Health – د پیریسبورګ روغتون**<br>12623 Eckel Junction Rd.<br>Perrysburg, OH 43551<br>څانګه: مالي مشوره<br>**Mercy Health – د سانټ ایلیزابت یانګزټاون روغتون**<br>1044 Belmont Ave.<br>Youngstown, OH 44501<br>څانګه: مالي مشوره<br>**Mercy Health – د سانټ ایلیزابت بورډمن روغتون**<br>8401 Market St.<br>Boardman, OH 44512<br>څانګه: مالي مشوره<br>**Mercy Health – د سانټ جوزف وارن روغتون**<br>667 Eastland Avenue<br>Warren, Ohio 44484<br>څانګه: مالي مشوره<br>**Mercy Health – د لورین روغتون**<br>3700 Kolbe Rd.<br>Lorain, OH 44053<br>څانګه: مالي مشوره<br><br>**Mercy Health – د آلین روغتون**<br>200 W. Lorain St.<br>Oberlin, Ohio 44074 | **Mercy Health - انډرسن روغتون**<br>7500 State Road<br>Cincinnati, OH 45255<br>څانګه: مالي مشوره<br>**Mercy Health - کلیرمانټ روغتون**<br>3000 Hospital Drive<br>Batavia, Ohio 45103<br>**څانګه: مالي مشوره**<br>**Mercy Health – فیرفیلډ روغتون**<br>3000 Mack Road<br>Fairfield, Ohio 45014<br>**څانګه: مالي مشوره**<br>**Mercy Health - یهودي روغتون**<br>4777 E. Galbraith Road<br>Cincinnati, Ohio 45236<br>**څانګه: مالي مشوره**<br>**Mercy Health – د لویډیز روغتون**<br>3300 Mercy Health Blvd.,<br>Cincinnati, Ohio 45211<br>**څانګه: مالي مشوره**<br>**Mercy Health – کینګز ملز روغتون**<br>5440 Kings Island Drive<br>Mason, Ohio 45040<br>څانګه: مالي مشوره<br>**Mercy Health – د سپرینګفیلډ سیمه ییز روغتیایی مرکز**<br>100 Medical Center Drive (at West North St)<br>Springfield, Ohio, 45504<br>څانګه: مالي مشوره<br>**Mercy Health – اوربانا روغتون**<br>904 Scioto St,<br>Urbana, OH 43078<br>څانګه: مالي مشوره<br>**Mercy Health – د سانټ ریتا روغتیایی مرکز**<br>730 W. Market St.<br>Lima, OH 45801<br>څانګه: مالي مشوره<br><br><br>**Mercy Health – لورډز روغتون**<br>1530 Lone Oak Rd |

| | | |
|---|---|---|
| ځانګه: مالي مشوره | Paducah, KY 42003<br>ځانګه: مالي مشوره<br>**Mercy Health – مارکوم او ولاس روغتون**<br>60 Mercy Court Irvine, KY 40336<br>**ځانګه: مالي مشوره**<br>**Mercy Health – د سانټ ونسنټ روغتیایی مرکز**<br>2213 Cherry Street<br>Toledo, OH 43608<br>ځانګه: مالي مشوره<br>**Mercy Health – د سانټ چارلس روغتون**<br>2600 Navarre Avenue<br>Oregon, OH 43616<br>ځانګه: مالي مشوره | |

**معلومات:**

د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د **Bon Secours روغتونونو** لپاره د BSMH سره په لاندې ډول اړیکه ونیسئ:

| | | |
|---|---|---|
| www.bsmhealth.org/financial-assistance<br>www.fa.bonsecours.com | | *ویب سایټ* |
| 804-342-1500 (ځایی ریچمانډ)<br>877-342-1500 | | *تلیفون* |
| د Bon Secours Mercy Health مالي مرسته<br>پوست بکس 631360<br>Cincinnati, OH 45263-1360 | | *د ایمیل له لارې* |
| **د Bon Secours میري ایماکیولیټ روغتون**<br>2 Bernadine Dr<br>Newport News, VA 23602<br>ځانګه: مالي مشوره<br>**د Bon Secours میري ویو طبي مرکز**<br>3636 High Street<br>Portsmouth, VA 23707<br>ځانګه: مالي مشوره<br>**په هاربر ویو کې د Bon Secours روغتیایی مرکز (د می 2025 کې پای ته رسیږي)**<br>5818 Harbour View Boulevard<br>Suffolk, VA 23435<br>ځانګه: مالي مشوره<br>**د Bon Secours هاربر ویو طبي مرکز (د می 2025 کې پیل کیږي)**<br>1020 Bon Secours Drive<br>Suffolk, VA 23435 Dept: مالي مشوره<br>**د سانټ فرانسیس مرکزي ښار**<br>One St. Francis Drive<br>Greenville, SC 29601<br>ځانګه: مالي مشوره<br><br>**د سانټ فرانسیس ختیځ اړه**<br>125 Commonwealth Drive<br>Greenville, SC 29615<br>ځانګه: مالي مشوره<br>**سانټ فرانسیس میلنیم** | **د Bon Secours سانټ فرانسیس طبي مرکز**<br>13710 St. Francis Boulevard<br>Midlothian, VA 23114<br>ځانګه: مالي مشوره<br>**Bon Secours- د ریچمانډ ټولنې روغتون**<br>1500 N. 28th Street<br>Richmond, VA 23223<br>ځانګه: مالي مشوره<br>**د Bon Secours میموریل سیمه ییز طبي مرکز**<br>8260 Atlee Road<br>Mechanicsville, VA 23116<br>ځانګه: مالي مشوره<br>**د Bon Secours سانټ میري روغتون**<br>5801 Bremo Road<br>Richmond, VA 23226<br>ځانګه: مالي مشوره<br>**د راپاهانوک عمومي روغتون**<br>101 Harris Road<br>Kilmarnock, VA 22482<br>ځانګه: مالي مشوره<br><br>**Bon Secours** - د جنوبي غاړې طبي مرکز<br>200 Medical Park Blvd<br>Petersburg, VA 23805<br>**ځانګه: مالي مشوره**<br>**Bon Secours** - د جنوبي ویرجینیا طبي مرکز<br>727 N Main Street | حضوري |

| | | |
|---|---|---|
| 2 Innovation Drive<br>Greenville, SC 29607<br>څانګه: مالي مشوره | Emporia, VA 23847<br>**څانګه: مالي مشوره**<br>**د Bon Secours ساوتمپټن میموریل روغتون**<br>100 Fairview Drive<br>Franklin, VA 23851<br>**څانګه: مالي مشوره** | |